# جریده میـــزان

قـوه قضائیه

د سترې محکمې کاري ځرګندویه خپرونه


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳


د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۱۵ زمری ۱۴۰۱ هـ ش | ۸ محرم ۱۴۴۴ هـ ق | ۶ آګست ۲۰۲۲ م | مسلسله شمېره (۱۴)


## د سترې محکمې رئیس او قاضي القضاة حفظه الله د یوه پلاوي په مشرۍ باميان ولایت ته سفر وکړ

د سترې محکمې رئيس شيخ عبدالحکيم (حقاني) حفظه الله د يوه پلاوي په مشرۍ تېره پنجشنبه د محاکمو د ستونزو ارزونې او وړانديزونو د اورېدو په موخه باميان ولايت ته سفر وکړ.

د سترې محکمې رئيس شيخ صاحب حفظه الله د دغه سفر پر مهال د باميان د استيناف محکمې په تالارکې د عدلي او قضائي ارګانونو له مسوولينو او کارکوونکو سره ناسته وکړه.

په ياده ناسته کې چې د عاليقدر شيخ صاحب حفظه الله په مشرۍ جوړه شوې وه د باميان د استيناف محکمې رئيس، د ښاري ابتدائيه محکمې رئيس، د ولايت مقام د دفتر رئيس، امنيه قوماندان او مرستيال يې، د استخباراتو رياست مرستيال، د استيناف څارنوالۍ رئيس، د استيناف او ښاري محاکمو د ديوانونو رئيسانو او نورو مسوولينو ګډون درلود.

د سترې محکمې رئيس شيخ صاحب حفظه الله په دې ناسته کې د باميان ولايت اړوند محاکمو د ستونزو اورېدو ترڅنګ اړوند مسوولينو ته هدايت وکړ چې حقوقي او جزائي قضيو ته د شرعي احکامو او اسلامي امارت د اصولو مطابق پر ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

شيخ صاحب د اړوند ارګانونو ترمنځ پر متقابل درناوي ټينګار وکړ.

دغه راز د سترې محکمې رئيس شيخ صاحب حفظه الله او ورسره مل پلاوي د ياد سفر پر مهال د باميان ولايت ابتدائيه محاکمو کې د مسلکي او پر شرايطو د برابرو کسانو د جذب په موخه د رقابتي ازموينې بهير څخه له نږدې ليدنه وکړه.

شيخ صاحب حفظه الله د باميان ولايت اړوند محاکمو کې پر شرايطو د برابرو کسانو د جذب په موخه د رقابتي ازموينې بهير تر نظارت وروسته په ۱۴۴۳/۱۲/۳۰ نېټه بېرته کابل ته راستون شو.

## گزارش اجراآت دیوان رسیده‌گی به قضایای تجارتی

د یوان رسیده‌گی به قضایای تجارتی از آغاز حکومت امارت اسلامی طبق هدایت مقام ستره محکمه علاوه بر قضایای تجارتی مکلفیت و صلاحیت رسیده‌گی به قضایای حقوق عامه را نیز به عهده داشته، که از ابتداء تاکنون شیخ محمد عوض (مظهری) با همکاران قضائی و اداری این ریاست آغاز به کارنمودیم.

به تعداد (٦٨) جلد دوسیه از حکومت قبلی لااجراء باقی‌مانده بود، و به تعداد (٣٣٨) جلد دوسیه اعم از موضوعات تجارتی و حقوقی در دوره فعلی به منظور رسیده‌گی مرحلهٔ تمیز وارد این دیوان گردیده‌است که مجموعاً(٤٠٦) جلد ارقام را نشان میدهد.

در مورد (٦٠) جلد دوسیه که قضایای تجارتی و حقوق عامه را شامل بوده تصمیم اتخاذ و قرار صادر گردید، به تعداد (٧٠) جلد دوسیه به دلایل مختلف که ایجاب رسیده‌گی را نمی‌کرد بعد از ملاحظه اوراق، به مراجع مربوط آن مسترد گردید و فعلاً به تعداد (٢٧٦) جلد دوسیه در این دیوان موجود می‌باشد که به سلسله شماره و تاریخ کتاب ثبت اجراآت قضائی بالای شان اجراآت قانونی و شرعی صورت خواهد گرفت.

## د بشري سرچينو عمومي رياست د استخدام او سوانحو رياست د اجراآتو راپور

په ۱۴۴۳ ه ق کال کې د بشري سرچينو عمومي رياست د استخدام او سوانحو رياست، اجراييه عمومي مديريت، د اداري پراختيا او تشکيلات امريت، د سوانحو آمريت، ديتابس آمريت د اجراآتو راپور په لاندې دول شريک شوی:

**اداري پراختيا او تشکيلاتو آمريت:**

له ۱۴۴۳/۸/۱۳ څخه تر۱۴۴۳/۱۱/۲۹ نېټې پورې د اداري پراختيا او تشکيلاتو آمريت د افغانستان اسلامي امارت د قضائيه قوې د مقاماتو د لارښوونې په اساس د (١٤٠١) مالي کال په تشکيل کې لاندی تغيرات راوستي دي.

**۱ - د قضائيه قوې د (١٤٠١) مالي کال د تشکيل تنقيصات:**

ـ د سترې محکمې د ١٤٠٠ مالي کال په تشکيل کې (٨) ديوانونه تنظيم شوي وه: د جزاء عمومي ديوان، د داخلي اوخارجي امنيت د جرايمو ديوان، د اداري فساد جرايمو ته د رسېدنې، عامه امنيت او مخدره توکو د جرايمو ديوان، د ښځو پر وړاندې د تاوترخوالي د مخنيوي او د ماشومانو د تخلفاتو ديوان، د نظامي منسوبينو د جرايمو ديوان، مدني ديوان، تجارتي ديوان او دعامه حقوقو او شخصي احوالو ديوان.

ـ چې اوس مهال د (١٤٠١) مالي کال په تشکيل کې صرف پنځه ديوانونه (د جزاء ديوان، مدني ديوان، د عامه امنيت ديوان، تجارتي ديوان او د نظامي منسوبينو ديوان) شتون لري او نور درې ديوانونه (د داخلي اوخارجي امنيت د جرايمو ديوان، د عامه حقوقو او شخصي احوالو ديوان، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي او د ماشومانو د تخلفاتو ديوان) ترې لرې شوي دي.

ـ د مخدره توکو جرايمو ته د رسېدنې د استيناف ځانګړې محکمه حذف شوې ده، د اداري فساد درنو جرايمو ته د رسېدنې د استيناف ځانګړې محکمه حذف شوې ده، د بګرام د توقيف خونې د داخلي او خارجي امنيت جرايمو ته د رسيدنې د استيناف ځانګړې محکمه خذف شوې ده، د دولتي ځمکو د غصب قضيو ته د رسېدنې د استيناف ځانګړې محکمه تنقيص شوې ده، د قضائي مراقبت اداري رياست حذف شوی دی، د قضائي تعليماتو په رياست کې د قضائي ستاژرانو (٣٠٠) بستونه تنقيص شوي دي، په ټولو (٣٤) ولايتونو کې د ښځو پر وړاندی د تاوتريخوالي د مخنيوي او د کوچنيانو د تخلفاتو ديوانونه تنقيص شوي دي او د جندر آمريت تشکيل له منځه تللی دی.

پاتې برخه ۲

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۷**

**نېټه: ۱۴۴۳/۱۱/۱۲ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د جنوب غرب زون د تميز عالي رياست د محترمو علماء کرامو لخوا د (ديوان جزاء، ديوان مدني او ديوان امنيت عامه) د موضوعاتو او صلاحيتونو د تعين په موخه جدول ترتيب شوی چې بيا وروسته د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته د ملاحظې لپاره وړاندې شو، د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا د حکم مورخ(رمضان المبارک/۱۴۴۳هـ ق) په اساس تائيد او منظور شو.

پورته ذکر شوی جدول د (جنوب غرب زون د تميز عالي رياست او د سترې محکمې د قضائي معاونيت) لخوا د مکتوب نمبر (۶۰۲) مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۱۵هـ ق په توسط د ديوانونو محترمو منسوبينو ته استول شوی دی.

د سترې محکمې د محترم مقام د هدايت په اساس نوموړی جدول چې د (جنوب غرب زون د تميز عالي رياست او د سترې محکمې د قضائي معاونيت) په مکتوب نمبر (۶۰۲) مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۱۵هـ ق کې درج دی، جنساً د دغه متحدالمآل مل د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې تميزونو، ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محاکمو ته واستول شو تر څو د ضرورت په وخت کې شرعي او اصولي کړنې د هغې په رڼا کې تر سره شي.

يادونه:په پورته ذکر شوي جدول کې د درېيو(۳) ديوانونو لپاره موضوعات تعين شوي دي، د پاته ديوانونو لپاره او د پاته موضوعاتو د تعين په باره کې د سترې محکمې د مرکزي تميز د رئيس صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د مرکزي ديوانونو د رئيسانو صاحبانو لخوا جدول ترتيب شوی چې د سترې محکمې د عالي شورا تر تصويب او د مشرتابه محترم عالي مقام تر تائيد وروسته به د دې متحدالمآل په تعقيب تاسو ته واستول شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۸**

**نېټه:۱۴۴۳/۱۱/۱۶ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام د دفتر رياست مکتوب نمبر(۷۱۸ج۱)مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۵هـ ق د جناب محترم اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله هدايت رارسېدلی چې متن د هدايت يې داسې دی:

(( د سترې محکمې اړوند مسئولينو د تغير او تبديل په صورت کې دې هر مسئول ټول اسناد، اجناس، وسائط او بنديان چې د هغه ځای مربوط وي په پوره وضاحت سره نوي ټاکل شوي مسئول ته سپاري، تر څو نوي مسئول ته په کارونو کې هيڅ ابهام پاته نشي. هيڅ مسئول دې نقليه وسائط د ځان سره نه نقلوي کوم چې د هغه ځای مربوط دي.))

بناءً پورته ذکر شوی مکتوب د سترې محکمې عالي مقام د هدايت په اساس د دې متحدالمآل مل په يوه ورقه کې د سترې محکمې تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محاکمو ته واستول شو تر څو خپلې شرعي او اصولي کړنې د هغې په رڼا کې برابرې کړي.

يادونه: البته د سترې محکمې د عالي مقام د ځانګړي هدايت په اساس، د محاکمو هغه مسئولين چې له يو ځای څخه بل ځای ته تبدليږي، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست لخوا ورکړل شوي سيمکارتونه دې هم (د هغه پر ځای نوي ټاکل شوي) مسئول ته وسپاري ځکه چې دغه سيمکارتونه په ستره محکمه کې د شخص په نوم نه، بلکې د محکمې يا ديوان په نوم ثبت دي او په دې طريقه به د شخص په بدلېدو د محکمې نمبر نه بدليږي.

پاتې برخه ۴

**عصري زده کړې**
**ځلورمه برخه**

کله چې عصري زده کړې جائزې شوې، نو دا نه ښايي چې له ديني زده کړو څخه زده کړيالان او په عموم کې ټول مسلمانان بې پروا شي، ځکه په ديني زده کړو کې د دنيا او آخرت نېکمرغي نغښتې ده او انسان سمې لارې ته برابروي او پاتې شوه عصري زده کړې، دا بيا په خپل ذات کې د دنيوي ژوند او دنيوي چارو سره تړلې دي، نو د عصري زده کړو په ترتيب او کارولو کې ټول انسانان هغه که مسلمان وي او که کفار سره مشترک دي، مګر کفار يوازې د دنيوي چارو لپاره ترې استفاده کوي او پاتې شوه مسلمانان يې بيا، لکه نورې دنيوي چارې چې د دنيا او آخرت د نېکمرغۍ د ترلاسه کولو لپاره استعمالوي، همدارنګه عصري زده کړې هم د همدې موخې لپاره ترلاسه کوي.
د قرآن او حديثو د زده کړو څخه هدف د الله تعالی د يووالي، بنده ګۍ او عبادت پېژندنه ده او د همدې موخې لپاره دنيا او دنيا کې موجود شيان پيدا شوي دي او د همدې لپاره جنت او دوزخ جوړ شوي دي.
او د عصري زده کړو څخه بيا هدف فناء کېدونکي مادي ګټې ترلاسه کول دي، لکه هغه وسائل چې انسان دغه موخې ته رسوي.
نو څرنګه چې مسلمانانو باندې عصري زده کړې لازمې دي، ددې سره بايد ديني زده کړو ته هم توجه وکړي، د بېلګې په توګه: که يو زده کوونکی يو ساعت د عصري تعليم پر زده کړې لګوي، نو بايد دوه ساعته پر ديني تعليم مصرف کړي.
اخذليک: الإمارة الإسلامية و نظامها، صفحه ۲۴۵/ ليکوال: قاضي القضات شيخ الحديث عبد الحکيم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبد الرحيم راشد

## د بشري سرچینو عمومي ریاست د استخدام ...

**۲- د تشکیل د تعدیلاتو په اړه:**

ـ د ۱٤۰۰ مالي کال په تشکیل کې د بهرنیو اړیکو ریاست چې د یو ریاست په شکل کې موجود و د ۱٤۰۱ مالي کال په تشکیل کې د بهرنیو اړیکو د آمریت په نامه د بهرنیو، عامه اړیکو او نشراتو د ریاست د تشکیلاتي جوړښت تر چتر لاندې تنظیم شوی دی.

ـ د معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست چې د یو ریاست په شکل یې فعالیت درلود اوس مهال د معلوماتي ټکنالوژۍ د آمریت په شکل د اداري چارو د ریاست د تشکیل تر ساختار لاندې تنظیم شوی دی.

ـ د قضائیه قوې عمومي اداري آمریت چې د ۱٤۰۰ مالي کال په تشکیل کې موجود و د ۱٤۰۱ مالي کال په تشکیل کې د اداري معاونیت په نامه تنظیم شوی دی.

**۳- د (۱٤۰۱) مالي کال د تشکیل د تزئیداتو په اړه:**

ـ د سترې محکمې د عالي مقام د ریاست د تشکیلاتي ساختار لاندې قضائي معاونیت ایجاد شوی چې د هغې د تشکیلاتي ساختار لاندې د مرکزي تمیز عالي ریاست فعالیت لري چې د (جزاء، مدني، عامه امنیت، تجارتي او نظامي منسوبینو) د دیوانونو چارې رهبري کوي.

ـ همدارنګه د کندهار زون لپاره د تمیز محکمه جوړه شوې ده، چې د هغې د تشکیلاتي ساختار لاندې د کندهار زون د تمیز عالي ریاست فعالیت لري چې د (جزاء، مدني، عامه، تجارتي او نظامي منسوبینو) دیوانونه موجود دي او د لسو ولایتونو چارې رهبري کوي.

ـ د افغانستان د اسلامي امارت د محترمې کابینې د ۱٤٤۳ کال د (۲ـ۱) بند (۱۹) ګڼې مصوبې او د سترې محکمې د عالي مقام د دفتر محترم ریاست د (۲٦۷) ګڼې د ۱٤٤۳/۱۰/۹ نېټې مکتوب د وساطت په اساس د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست چې په (۸) بستونو مشتمل دی د قضائیه قوې د ۱٤۰۱ مالي کال په تشکیل کې ترتیب او تنظیم شو.

**٤- د قضائیه قوې د اداري کارکوونکو او خدماتي پرسونل د دندو د لایحو په اړه:**

ـ د قضائیه قوې د (۱۰٦۸) اداري کارکوونکو او(۱۷٤۹) خدماتي پرسونل بستونو لپاره جلا جلا د دندو لایحې ترتیب شوې دي چې د تشکیل مطابق د هرې دندې لایحې ته یو مشخص تشکیلاتي کود په نظر کې نیول شوی دی.

**۵- مختلفو ادارو او وزارتونو سره د همغږۍ په ناستو کې د ګډون په اړه:**

ـ د قضائیه قوې د ۱٤۰۱ مالي کال د تشکیل د ترتیب او تنظیم په اړه د اړتیا په وخت کې مختلفو ریاستونو او برخو سره جلسې او اړیکې نیول شوې دي چې د هغو د وړاندیزونو او نظریاتو په اړه د سترې محکمې د باصلاحیته مقاماتو څخه لازمي لارښووني ترلاسه شوې دي.

ـ د قضائیه قوې د ۱٤۰۱ مالي کال د تشکیل د منظورۍ په اړه د ریاست الوزرا د چارو اداري په جلسو کې ګډون شوی چې په هغې کې د تشکیل د تخنیکي موضوعاتو په اړه نظریات شریک شوي دي. چې په پایله کې د قضائیه قوې د ۱٤۰۱ مالي کال تشکیل احصائیه په لاندې ډول ده: قضائي بستونه (۲٦۰۰)، اداري بستونه (۱۰۷۲) او خدماتي بستونه (۱۷۳٦). چې د ۱٤۰۱ مالي کال تشکیل عمومي احصائیه (۵٤۰۸) بستونه کیږي د منظورۍ لپاره د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزرا محترم مقام ته واستول شو.

دغه تشکیل د وزیرانو ریاست د محترم مقام د (۲۵۳۷) ګڼې د ۱٤٤۳/۱۱/۱۹ نېټې د حکم په اساس منظور شو، له منظورۍ وروسته اړونده ریاستونو ته د خبرتیا په موخه واستول شو.

### د سوانحو آمریت:

۱ ـ د ۹۰۵ جلده سوانحو دفتر ترتیب، بېلا بېلو ادارو ته د ۳۸ جلده سوانحو دفتر استول، د ۳۸ جلده سوانحو دفتر د دورو تثبیت چې نورو ادارو ته ولېږل شول، د لوړو زده کړو له وزارت څخه د سترې محکمې د ۳۷ منسوبینو د تحصیل په اړه معلومات او اړوند ادارو ته د ۳۷ کسانو د تحصیلي اسنادو تکثیر.

۲ ـ د ۲۰ جلده سوانحو دفتر مطالبه، د ۲۰ جلده دفاترو د اسنادو او سوابقو بررسي چې له نورو ادارو څخه رالېږل شوي دي، د ٦۱۳۲ مکتوبونو ارسال او مرسل، د ۲۱۷۰ مکتوبونو رسید او ۲۵۰۰ کسانو ته د قلمي سوانحو لېږل.

۳ ـ د قلمي سوانحو د ۳۰۰۰ فورمو چاپ، قلمي سوانحو ته بیاکتنه، د ۱۸۳ سوانحو لپاره د کارت ترتیب، د ۲۷۰ اداري کارکوونکو د قدم اخیستو (ارتقا قدم) معامله، د سوانحو ادارو ته د ۳۷۰ بېلابېلو مکتوبونو او پ۲ فورمونو معامله کول او اندراج کتاب ته د ولایتي اجیرانو د سوانحو د خلاصې د ۵۵ فورمونو معامله کول.

٤ ـ د صحافت په موخه د ۲۳۰ جلده سوانحو دفتر لېږل، د ۹۰۵ جلده قضائي او اداري سوانحو دفتر اندراج، د ارشیف له امریت څخه د ۲۰ جلده سوانحو دفتر مطالبه او د سوابقو د ساتنې او مراقبت په موخه د نوو ګومارل شوو کارکوونکو د اسنادو د ساتنې لپاره د ۱۷ پایې الماریو ځای پر ځای کول.

**د سوانحو امریت د حاضرۍ عمومي مدیریت:**

۱ ـ د حاضرۍ کتاب ته هره میاشت د سترې محکمې د مرکزي ادارو د ۵٦۹ قضائي، اداري او خدماتي منسوبینو د شهرت رسول، د رخصتیو د تنظیم په موخه د سترې محکمې د ۵٦۹ منسوبینو د ضرورت، مریضۍ او تفریح د رخصتیو محاسبه او مېزان، او د سترې محکمې د ۱۸ مرکزي ریاستونو د منسوبینو د سهار او مازیګر مهال حاضرۍ د لاسلیک لپاره په مېزونو د حاضرۍ د کتابونو تنظیم او ترتیب.

۲ ـ د حاضرۍ د کتابونو نظارت او کنټرول، هره ورځ د ناسوب کارکوونکو د حاضرۍ معامله، د معاشونو او اضافه کارۍ د اجراء لپاره عمومي مالي او اداري ریاست ته د سترې محکمې د ۵٦۹ قضائي، اداري او خدماتي منسوبینو د حاضرۍ راپور ورکول او له بست څخه د انفصال په موخه د استخدام آمریت ته د ۲۵ اداري او خدماتي کارکوونکو د شهرت لېږل.

۳ ـ د ولایتونو استیناف محاکمو او مرکزي ریاستونو ته د کاري ساعتونو د پیل او پای په اړه د متحدالمآلونو او مکتوبونو تکثیر، د ۲٦٦ ناروغۍ، ضرورت او تفریحي رخصتیو د روقعو معامله، د حاضرۍ په کتاب کې له ۶۰۰ د ډېرو کسانو د مقررۍ، تبدیل او له دندې د انفصال د پ۲ فورمونو معامله، د قانوني رخصتۍ د اخیستو لپاره د ګټورو مشورو شریکول او د تدقیق او اجراآتو په موخه د تدقیق او مطالعاتو ریاست ته د کارکوونکو د جوړ شوي طرزالعمل د مسودې لېږل.

### دیتابیس آمریت:

۱ ـ د یوه، یوه قضائي او اداري ډیټابس جوړول، په ټوله کې د مرکز په ګډون د ۲۸ ولایتونو د ۱۸۰۳ د قضائي منسوبینو پ۲ فورمونو ثبت او رسول، اداري ډیټابس ته د مرکز په ګډون د ولایتونو او ولسوالیو د اداري کارکوونکي د پ۲ فورمونو ثبت او رسول، اداري او قضائي ډیټابس ته د مرکز او ولایتونو د انفکاک د پ۲ فورمونو ثبت او رسول او د اداري کارکوونکو د ارتقاء قدم د پاڼو ثبت او رسول.

۲ ـ قضائي ډیټابیس ته د قضاتو د سوانحو دفتر رسول او ثبت، د ریاست الوزراء ملي احصائیې ته د لومړۍ کاري ربعې د راپور جوړول او ترتیب، په پنځو کټګوریو (د عالي شورا غړي، د سترې محکمې قاضیانو ته شین رنګ، اداري کارکوونکو ته آبي رنګ، خدماتي کارکوونکو ته سپین رنګ، دولتي ادارو، ملي او نړیوالو موسساتو د همکارانو ته سپین رنګ) کې د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې منسوبینو ته د هویت کارتونو ډیزاین او ترتیب.

۳ ـ قضاتو ته ۲۷۰، اداري کارکوونکو ته ۳۳۰ د هویت او خدماتي کارکوونکو ته ۲۰۰ د هویت کارتونو وېش او ترتیب.

**د استخدام آمریت د قضاتو د استخدام عمومي مدیریت:**

۱ ـ د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمانونو مطابق ۱۵۰ قاضیانو ته د پ۲ فورمونو ترتیب، د افغانستان اسلامي امارت ریاست الوزراء محترم مقام ته د حکم اخیستو په موخه د ۲۱٦۷ قضاتو د مقررۍ د ۱۵ وړاندیزونو ترتیب، ۲۳۱۷ تازه مقرر شوو قضاتو ته د پ۲ فورمونو ترتیب، هر کس ته شپږ قطعې او په ټوله کې ۱۳۹۰۲ قطعې پ۲ ترتیب او له صادرېدو وروسته اړوند مراجعو ته لېږل شوې دي.

۲ ـ په ۱۱ جلدو کې د تازه مقرر شوو قضاتو د اندراج دفتر ترتیب او تنظیم، په اندراج دفتر کې د ۱۴۰۱ مالي کال د تشکیل د قضائي بستونو تسوید، د قضاتو د اندراج دفتر کې د تازه مقرر شوو قضاتو د پ۲ فورمو معامله، د سترې محکمې د عالي مقام د منظورۍ لپاره د ۳۳ هغو قاضیانو انفصال او انفکاک اړوند وړاندیزونو برابرول چې په دنده کې غایب وو، له صادرېدو او تکثیر وروسته د انفکاکي او انفصالي ۳۳ قضاتو د پ۲ فورمونو ترتیب او تهیه او اړوند مراجعو ته د هغه تکثیر.

۳ ـ ۲۳۱۷ تازه ګومارل شوو قضاتو ته د استخدام د دفاترو ترتیب او تنظیم، ټولو اړوند مراجعو ته د متحدآلمال په شکل د سترې محکمې د عالي مقام د هدایاتو د مکتوبونو ترتیب او تکثیر، د اجراآتو په موخه اړوند شعبو ته د ریاست الوزراء د تصویبونو تکثیر او رسول، د ۲۵۸ نوو ګومارل شوو قضاتو د استخدام اړوند اسنادو وېش او برابرول.

٤ ـ د هغو قضاتو او اداري کارکوونکو د استخدام دفاترو ترتیب چې د تشکیل له مخې یې بستونو تنقیص شوي، د ۱۰۱۰ کسانو د پ۲ فورمو، وړاندیزونو، استعلامونو او مکتوبونو صادره او وارده، مافوق آمریت ته د ربعوار، میاشتني او کلني فعالیت د دقیق راپور ورکول، ارتقای ظرفیت ریاست ته د شپږ میاشتنۍ ارزوني لېږل او د کلني پلان ترتیب او جوړول، د مراجعینو اړیکو ته ځواب ورکول، د افغانستان اسلامي امارت د چارواکو د احکامو، فرمانونو، تصاویبو او نورو محرمو اسنادو د ساتنې او مراقبت په موخه د دفاترو ترتیب او برابرول.

۵ ـ د ټولو هغو وړ او پر شرایطو برابرو کسانو د نوملړ برابرول چې د قضاء په ازموینه کې بریالي شوي دي، پر شرایطو د برابرو هغو کسانو د غوښتنلیکونو ثبت چې په ازموینه کې ګډون کوي، دغه راز د قضائي، اداري او خدماتي کارکوونکو د تبدیل، انفکاک او مقررۍ په موخه د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو او ولایتي محاکمو د ریاستونو د د وړاندیزونو ثبت، د مرکزي او ولایتي محاکمو د رئیسانو او قاضیانو د سوانحو لنډیز راټول، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د منظورۍ اخیستو په موخه د ۲۱۲ قضاتو د تبدیل، مقررۍ په اړه د دوو وړاندیزونو ترتیب، تنظیم او لېږل چې تر اوسه یې منظوري نه ده راغلې.

**د اداري کارکوونکو د استخدام آمریت عمومي مدیریت:**

۱ ـ د محاکمو د فعالیت د ترسره کېدو په موخه ۳٦۰ اداري کارکوونکي د سترې محکمې په مرکزي ریاستونو او ٦۸۱ کارکوونکي د ولایتونو په مرافعه محاکمو کې په دندو ګومارل شوي دي، ۴۲ اداري کارکوونکي له دندو منفصل شوي، ۱۱ اداري کارکوونکي په نورو ادارو کې د دندو له امله د سترې محکمې له بستونو منفک شوي، د قضائي ستاژ د ۳۱مې دورې د ستاژرانو ۳۱۵ استخدامي دفاتر فهرست او ارشیف شوي، او ۲۲۸ نوي مقرر شوي کارکوونکي د سوانحو د دفتر د بشپړېدو لپاره د سوانحو آمریت او په اړوند برخو کې د زده کړو لپاره د ظرفیت لوړونې امریت ته معرفي شوي دي.

۲ ـ د دقیقو معلوماتو ترلاسه کېدو او د سترې محکمې اړوند قضائي، اداري او خدماتي بستونو د کمبوداتو د معلوملو په موخه د ۱۴۰۱ کال د منظور شوي تشکیل مطابق د قضائي، اداري او خدماتي منسوبینو د شهرت تنظیم او ترتیب، په ورځني ډول د هیواد محاکمو ته د عریضو او وړاندیزونو ترتیب او تنظیم، د منظورۍ ترلاسه کېدو په موخه د سترې محکمې د قضائي، اداري او خدماتۍ منسوبینو د تبدیل او تقرر د وړاندیزونو لیکل، د مقررۍ، تبدیل او انفصال د ٦۵۷۹ پ۲ فورمو تحریر او تطبیق، په اندراج او دیتابس کې د هغه معامله.

۳ ـ د تنقیص شوو محاکمو د پېژندلو په موخه د تېر کال له اندراج سره د سترې محکمې د ۱۴۴۳ کال د منظور شوي تشکیل تطبیق، د ۱۴۰۱ کال له تشکیل او اندراج سره د ۱۴۰۰ کال د اندراج انتقال، تسوید او تحریر او د اداري کارکوونکو له استخدامي دفاترو سره د ۱۰۴۲ پ۲ فورمې ضمیمه شوې دي.

**د سترې محکمې د بشري سرچینو د عمومي ریاست اړوند اجرائیه عمومي مدیریت:**

۱ ـ د ۱۴۴۳ کال لپاره د درې جلده وارده او صادره او د اجرائیه عمومي مدیریت د یو جلد رسیداتو کتاب جوړول او ترتیب، په وارده او صادره کتاب کې د ۱۷۲۵ مکتوبونو او وړاندیزونو ثبت او راجستر، هره ورځ د بشري سرچینو له رئیس سره د شاوخوا ۱۰ منسوبینو او مراجعینو د لیدنو تنظیم، هره ورځ د بشري سرچینو د عمومي ریاست د مقام لخوا د هدایت ترلاسه کېدو په موخه د شاوخوا ۱۰ کسانو د عریضو ترتیب او اړوند برخو ته د هغو لېږل. د رئیس صاحب په هدایت هره ورځ د ۱۰ مکتوبونو او وړاندیزونو تحریر او د کتنې لپاره د هغه لېږل.

۲ ـ د زرو (۱۰۰۰) قاضیانو د استخدامي سوابقو د تفکیک په موخه د کارتونو د نوملړ ترتیب، د نوملړ په شکل کمپیوټر کې د قضاتو د استخدامي سوابقو ثبت، او د مخکنیو قضاتو د ۴۰ استخدامي دفاترو فهرست بندي، د ۲۵۷ قضاتو او ۳۰ اداري کارکوونکو د تحصیلي، جنایي او روغتیایي فورمو ټاپه کول، د هغو کسانو لپاره د پارچې د جدولو ترتیب او برابرول چې ازموینه ورکوي.

## د لغمان استیناف محکمه کې اداري ناسته ترسره شوه

د ۱٤٤۳ کال دذالحجې د میاشتې په ۲٦ نېټه د لغمان ولایت د استیناف محکمې په انګړ کې د استیناف محکمې د رئیس مفتي عبدالله (فرقاني) په مشرۍ اداري غونډه ترسره شوه.

یاده غونډه چې د استیناف محکمې د دیوانونو رئیسانو، د ښاري محکمې رئیس، د ښاري محکمې د دیوانونو رئیسانو، د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو رئیسانو او د عدلیې ریاست استازي په کې ګډون کړی و د کلام الله د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

ورپسې د استیناف محکمې رئیس غونډې ته وینا وکړه، د غونډې ګډونوالو ته یې ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه چې د افغانستان اسلامي امارت محاکم په قضائي چارو کې خپلواک دي، هېڅ نظامي یا ملکي اشخاص حق نه لري چې د محاکمو په چارو کې په مستقیم او یا غیر مستقیمه توګه مداخله وکړي.

نوموړي روښانه کړه چې ټول قاضي صاحبان مسوول دي چې قضا ته د اسلامي نظام د یوې مستقلې قوې په توګه درناوی وکړي او په خپلو چارو کې له شفافیت،صداقت، او ایمانداري څخه کار واخلي،د قضاء په منصب او حیثیت د شریعت له نظره په بشپړه توګه ځان پوه کړي او ډېر کوښښ وکړي چې په سمه توګه دا مقدسه دنده سرته ورسوي.

د استیناف محکمې د رئیس له دې وینا وروسته د غونډې په اجنډا بحث وشو چې لاندې موارد په کې مطرح شول: ځینې وخت دوسیې په څارنوالۍ یا محاکمو کې ځنډېږي چې علت یې هم معلوم نه وي، له دې کار څخه باید په جدي توګه ډډه وشي.

په دوسیه کې باید د ډیټابیس فورم موجود وي بیا وروستی مرجع ته ولېږل شي.

کومې دوسیې چې د استیناف او تمیز لخوا نقض کیږي باید د ابتدائیه او استیناف لخوا ورته په اجراآتو کې لومړیتوب ورکړل شي.

دوسیې باید به مجلد شکل ترتیب او فهرست او بیا بعدي مرجع ته واستول شي.

عرایض باید وکتل شي که په شرایطو برابر وي بیا اجراآت وربانديې وشي.

د محکمې لخوا چې کله طرف د دعوی را جلب کیږي باید اجرائیه اداره وربانديې جدي عمل وکړي.

له دې وروسته د ناستې ګډونوالو خپل مشکلات مطرح کړل چې د حل په موخه یې لازم هدایات ورکړل شول.

په پای کې غونډه د دوعاء په وېیلو سره پای ته ورسېده.

## گزارش بازدید از مدیریت زندان ولایت کندز

به تاریخ ۱٤۰۱/٤/۱۱ مولوی نور محمد (نوری) رئیس عمومی محـــکمهٔ استیناف ولایت کـــندز با همراهی محمد اسماعیل (وهاج) نمایندهٔ قوماندانی امنیهٔ کندز، قاری عزت الله (زاهد) معاون ریاست استخبارات کندز از مدیریت زندان کندز نظارت به عمل آورد.

در زندان کندز به تعداد ۲٤۳ نفر زندانی بوده از جمله ۳۳ تن آن از طبقه اناث و بقیه از طبقه ذکور بوده اند، در مورد وضعیت معیشتی، صحی و برخورد مسؤولین زندان از زندانیان معلومات گرفته شد، کدام مشکل جدی به نظر نرسید که به رفع آن پرداخته میشد.

دوسیه های زندانیان در دواوین استینافی، دواوین محکمهٔ ابتدائیه شهری، ریاست محکمهٔ ابتدائیه منسوبین نظامی زون کندز، تعداد از محاکم ولسوالی های کندز، ریاست محترم عالی تمیز مرکزی و څارنوالی استیناف تحت غور محاکماتی و یا هم تحت تحقیق و بررسی است.

## د زابل ولایت مرافعه محکمې په ریاست مقام کې اداري غونډه ترسره شوه

د ١٤٤٣ هـ ق کال د ذوالحجې میاشتې په ۱۷ مه نېټه د زابل ولایت د استیناف محکمې په ریاست مقام کې د دې محکمې د رئیس شیخ نقیب الله (اخندزاده) په مشرۍ اداري ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې د مرافعه محکمې د ټولو دېوانونو رئیسانو او استازو، د ښهري محکمې استازي او د مرافعه محکمې اړوند امرینو ګډون درلود.

غونډه د قرانکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه، ورپسې د مرافعه محکمې رئیس پرانیستونکې وینا وکړه، د خپلو خبرو په پیل کې یې د غونډې ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه، د الله (جل جلاله) له ستر دربار څخه یې هیله وکړه چې موږ او تاسو ته را سپارل شوي مسوولیت کې مو کامیاب او بریالي کړي.

نوموړي زیاته کړه، چې موږ اوتاسو د اسلامي امارت د مسوولینو له خوا د زابلي ولس د خدمت لپاره په کار ګمارل شوي یو نو بایدر په پوره صداقت او ایمانداری سره دې دردېدلي ولس ته خدمت وکړو ، د سترې محکمې محترم عالي مقام د مسوولینو له خوا د کار لپاره د تعین شوي مهال ویش سره سم د خپلو آمرینو په پوره اطاعت سره باید پر ټاکلي وخت وظیفې ته حاضر او پر ټاکلي وخت له وظیفې څخه ولاړ شو.

د غونډې په پای کې د اداري اړوند د ځینو موضوعاتو په اړه پریکړې هم وشوې، غونډه د اختتامیه دعا په کولو سره پای ته ورسېده.

## جلسهٔ هماهنگی ادارات عدلی و قضائی ولایت غور

به تاریخ ۱۴٤۳/۱۲/۲۲ تحت ریاست مولوی سخی الرحمن «فایز» رئیس محکمهٔ مرافعه این ولایت جلسهٔ هماهنگی ادارات عدلی وقضائی ولایت غور در دفتر ریاست محکمهٔ مرافعه تدویر یافت.

در این جلسه مولوی احمدشاه (دین دوست) والی غور، مفتی عبدالهادی (امین) رئیس استخبارات، شیخ عبدالکریم «صمیم» رئیس څارنوالی مرافعه ولایت غور، رؤسا و نمایندهگان قوماندانی امنیه، آمریت جنائی، څارنوالی نظامی، آمریت محبس، ریاست عدلیه، رئیس و اعضائ محکمهٔ ابتدائیه شهری حضور داشتهاند.

این جلسه با تلاوت چندی از آیات کلام الله مجید آغاز شد.

سپس رئیس محکمهٔ مرافعه ضمن خوش آمدید به همه اعضائ جلسه، اجندای از قبل تهیه شده را در جلسه ارائیه داشت.

که بعد از بحث و تبادله نظر و نتیجه گیری توسط رئیس محکمهٔ مرافعه در مورد هر کدام هدایات ذیل را صادر فرمود.

- در مورد تعین سرنوشت محبوسین که تاکنون سرنوشت شان تعین نگردیده بود، طبق بررسی هیئت ولایتی و مطابق هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) تشخیص و به دیوانهای محاکم مربوطه هدایت گردید تا ظرف ۱۰ روز سرنوشت شان را تعین نمایند.
- اخیراً ذریعه مکتوب به تمام محاکم مرکز و ولسوالیها هدایت داده شد تا لیست دوسیههای حدود و قصاص و تعزیرات را جمع آوری و به دسترس ریاست مرافعه قرار دهند، که لیست متذکره طی دو روز از تمام محاکم جمع آوری و به دسترس قرارگرفته است. منبعد دوسیههای مربوطه به حدود و قصاص به اساس لیست جمع آوری شده از محاکم در اولویت کاری قضات محاکم مربوطه قرارداده خواهندشد.
- آمریت محترم جنائی و ریاست محترم څارنوالی در میعاد معینه طبق اصول، دوسیههای جزائی را به اسرع وقت تحقیقات خود را تکمیل نموده به محاکم ارسال نمایند.
- در تمام ولسوالیهای ولایت غور ادارات څارنوالی و حقوق فعال باشند.
- ریاست محترم عدلیه مکلفیت دارد طبق اصول به اصلاح عریضه نویسها اقدام نمایند و در رابطه به تمام وکلای مدافع با تفاهم به وزارت محترم عدلیه اقدام نموده وکلائ جدید را توظیف و راجستر نمایند.
- قوماندانی محترم امنیه در انتقال محبوسین از ولسوالیها با آمریت محبس همکاری نماید.
- تمام دوسیههای مربوط با افراد نظامی بدون تأخیر به څارنوالی نظامی احاله گردد، در این قسمت هیچ گونه وسیله و واسطه از طرف مسئولین مربوطه پذیرفته نشود.
- افرادی که از طریق محاکم و څارنوالی محکوم به حبس و یا توقیف می گردند، مسئولین محترم محبس آن را تسلیم و در تحت حبس قرار دهند.
- قوماندانی محترم امنیه راجع به جلب و احضار متهمین مسئول بوده در قسمت احضار شان هیچگونه غفلت صورت نگیرد.
- جهت جلوگیری از فساد و دفاع از مظلومین هیچ مجاهد و مسئول از مجرمین دفاع و وساطت ننمایند.
- مسئولین مربوطه غیر مستقیم به مجرمین تلقین انکار از جرم را ننمایند.
- اسناد و قباله دست داشتهٔ افراد و اشخاص توسط محاکم به دقت بررسی و تحقیق شود، راجع به صحت و سقم اسناد مذکور تصمیم بگیرند.

## آمر وثایق حوزه پنجم شهر کابل با عریضه نویسان جوار محاکم وثایق جنگلک جلسه برگزار کرد

به تاریخ ۲۱ شعبان ۱٤٤۳ جلسهٔ عریضه نویسان جوار محاکم وثایق پنجگانه شهر کابل تحت ریاست قاری وحید الله «فرقانیار» آمر وثایق حوزهٔ پنجم شهر کابل دایر گردید.

در این جلسه ضمن مطالبه کتبی شهرت عریضه نویسان و تعیین یک تن به عنوان نماینده آنها راجع به چگونگی تحریر عرایض مراجعین بحث و تبادل نظر صورت گرفت که در نتیجه رهنمود کاری ذیل برای آنها تفهیم گردید:

۱ ـ تحریر عرایض بدون جواز عریضه نویسی مجاز نمی باشد، استفاده از عرایض جعلی جرم پنداشتنه می شود و استفاده از جواز تاریخ تیر شده ممنوع می باشد.

۲ ـ کمیشن کاری جرم بوده و عریضه نویسان جزء پول تحریر عریضه حق گرفتن پول اضافی را ندارند، رفت و آمد بیمورد عریضه نویسان به داخل محکمه وثایق مجاز نیست و عریضه نویسان مکلف اند تا شهرت مکمل خود (اسم، محل کار، نمبر جواز و امضاء) را درج عریضه نمایند.

۳ ـ عرایض مغلق پیچده که از توان عریضه نویس بالا است تحریر نکند؛ چون باعث سرگردانی مراجعین و ضیاع وقت محکمه می گردد.

٤ ـ در صورت عدم موجودیت تذکره اصلی اسناد و عدم موجودیت شخص عارض عریضه تحریر نگردد.

٥ ـ عریضه نویسان یک نفر خویش را به عنوان نماینده تعیین و یک کاپی جوازخویش را تسلیم نماینده بدارند.

٦ ـ پول عریضه طبق لایحه محکمه اخذ گردد، عریضه نویس که جواز کار آن به محکمه وثایق نباشد عریضه تحریر ننماید و عریضه نویسان مشوره غلط و بیمورد به مراجعین ندهند.

در اخیر همه عریضه نویسان خود را مکلف به رعایت رهنمود فوق دانسته و تعهد سپردند که با محاکم همکار میباشند و جلسه با دعائیه خیر خاتمه یافت.

## د بلخ د استیناف محکمې عمومي رئیس د زندانونو د لیدنې لپاره ګډ پلاوی جوړ کړ

د بلخ ولایت د استیناف محکمې عمومي رئیس مولوي محمد یوسف «ابوالوفاء»د ۱۴۴۳ هجري قمري کال د دولسمې میاشتې په نهمه نېټه د ریاست الوزراء د محترم مقام د هدایت نمبر (۳۵۳) مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۰ هـ ق په اساس د زندانونو د لیدنې لپاره ګډ پلاوی جوړ او د دغه ولایت له عمومي زندان څخه یې لیدنه وکړه.

د یاد پلاوی په تشکیل کې د استخباراتو رئیس مولوي«حامد» او د قوماندانۍ نماینده مولوي محمد ابراهیم «ساجد» ګډون درلود.

ګډ پلاوي د محبوسینو اړوند خپل راپور کې د دغه لیدنې ټول جریان په لاندې ډول بیان کړی دی:

۲۹۸ تنه محبوسین ترحبس لاندې دي چې د ځینو دوسیې له امنیتي او کشفي ارګانونو سره تر ابتدائي تحقیقاتو لاندې دي، د ځینو دوسیې د ترتیب او تنظیم په موخه د بلخ ولایت په استیناف څارنوالۍ کې قرار لري او همدارنګه د اکثرو دوسیې د بلخ ولایت په محاکموکې تر غور لاندې دي چې بعضې فیصله شوې او یو شمېر یې د فیصله کولو لپاره تیارې دي، ځینې یې د ابتدائې محکمې تر غور لاندې دي.

له ذکر شوو بندیانوڅخه(٦٥) یې له زندانه آزاد شول،په همدې ترتیب په ولسوالیو کې هم د زندانونو لپاره د مربوطه رئیسانو په مشرۍ ګډ پلاوی و ګمارل شو.

دغه پلاوی د محبوسینو د صحت په اړه لیکي چې د بلخ ولایت د محبوسینو صحي اوضاع ښه ده او هغه ډګوتو په شمېر محبوسین چې روغتیایي ستونزې یې لرلې د محبس عمومي مدیریت ته یې د ستونزو د حل په اړه سپار ښتنې و شوې.

د بلخ ولایت د مرافعه محکمې د ریاست لخوا د ګډ پلاوي د راپور په اساس د بلخ ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې ریاست ته د بلخ ولایت د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو، د یاد ولایت د استیناف څارنوالۍ ریاست، د بلخ ولایت امنیتي او کشفي ارګانونوته بېلا بېل مکتوبونه واستول شول ترڅو د زندانیانو دوسیو ته ژر تر ژره رسېدنه وشي، په اصولي ډول ورته حللاره پیداشي.

د بلخ د استیناف محکمې عمومي رئیس «ابوالوفاء» وویل چې د بلخ ولایت ولسونه او مجاهدین د قدر وړخلک دي، د اسلامي امارت او شرعي نظام د حاکمیت لپاره یې بېساري قربانۍ ورکړې او یوازینۍ موخه یې د اسلامي نظام حاکمیت وه، اوس چې په ټول هیواد کې اسلامي نظام حاکم شوی نو دا نظام له موږ کار او خدمت غواړي او په ګډه به خدمت ورته کوو.

د استیناف محکمې رئیس ټولو اړوند کارکوونکو او ارګانو ته هدایت وکړ چې خپلو کارونو ته متوجې شي، د هیچا تر اغېزلاندې رانشي او شرعي فیصلې وکړي.

یاده غونډه د مفتي عبدالغفار«رباني» لخوا حاکم نظام ته د بقاء په دعاء پای ته ورسېده.

د یادونې وړ ده چې ریاست الوزراء محترم مقام په نمبر (۳۵۳) مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۰ هـ ق هدایت کې راغلي، په ټولو ولایتونو کې دې هغه ځانګړي بندیان چې حق العبد ورسره تړلی نه وي، د بند موده یې په زندان کې تېره کړې وي، د عفوې مستحق وي، د اصلاح نښې پرې یو څه ښکاره شوې وي دې له نورو بندیانو څخه تفکیک او لېست یې ترتیب کړئ.

## ننګرهار ولایت کې درېیو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

نن یکشنبه ۱۴۴۴/۱/۲ هـ ق نېټه باندې د ننګرهار ښاری محکمې د جزاء دېوان لخوا درې کسان د نامشروع اړیکو په قضیه کې په جزا محکوم شول.

یاد مجرمین په یو کورکې بغیرد کوم محرم سره ونیول شو ل، ابتدائي حالاتو کې یې د قوماندانۍ په محضرکې په خپل عمل اعتراف کړی و؛ خو په قضائي جلسه کې د خپل کړي عمل څخه منکر وو، البته په دې اساس چې دوی په یوه کور کې د غیرمحرم سره نیول شوي وو مجرم وپیژندل شول.

په ۱۴۴۳/۱۲/۲۷ هـ ق نېټه قضائي جلسه کې حکم وشو چې یاد مجرمین په تېر حبس سربېره هر یو د ۳۹ ـ ۳۹ درې تعزیرا ووهل شي، یادو مجرمینو د جزا دېوان په حکم قناعت وکړ.

او په ۱۴۴۴/۱/۲ هـ ق نېټه یاد مجرمین په عام محضرکې د ښاري محکمې د رئیس مولوي امان (حقاني) له لوري هر یو تن ۲۵ دُرې او د ښاري محکمې د جزاء دېوان د رئیس مولوي امین کلاب امین له لوري هر یو١٤ دُرې ووهل شول، چې په ټوله کې هرمجرم ته ۳۹ دُرې تعزیري جزا ورکړل شوه.

## د زابل ولایت شاه جوی ولسوالۍ شرعي ابتدائیه محکمې لخوا مجرمینو ته تعزیرات ترسره شول

په ۱۱/۱۱/ ۱۴۴۳ نېټه د زابل ولایت په شاه جوی ولسوالۍ کې د یادې ولسوالۍ د محکمې له لوري درې تنه نارینه وو ته د زنا او لواطت په جرم او یوې زنانه ته د زنا په جرم تعزیرات ورکړل شول.

یاد تعزیرات په داسې حال کې ترسره شول چې د دې ولسوالۍ د محکمې رئیس او غړو، د امربالمعرف مدیر، د اسخباراتو مدیر، د امنیه قوماندانۍ،جیدو علماء کرامو او د شاه جوی ولسوالۍ زرهاوو ولسي خلکو ګډون کړی و.

په پیل کې د محکمې د رئیس له لوري ټولو ګډونوالو ته د اسلام د مبارک دین په رڼا کې د اسلامي احکامو د جاري کېدو پر اهمیت باندې خبرې وکړې، ورپسې ګڼو علماء کرامو او د اسلامي امارت مسوولینو هم د رابلل شوې غونډې په ارتباط خبرې وکړې.

په پای کې د شاه جوی ولسوالۍ د محکمې لخوا چې هر مجرم په ۳۹ درو وهلو سزا سره محکوم کړل شوی وو تعزیر شول، د یادو مجرمینو له جملې څخه یې یو تن ته د ۳۹ درو وهلو سربېره د څلورو میاشتو تنفیذي بند سزا هم ور کول شوه.

د یادو تعزیراتو په ترسره کېدو سره د شاه جوی ولسوالۍ د اسلامي امارت مسوولین او اوسېدونکي ډېر خوښ شول، د دوی په وینا ترڅو په راتلونکي کې خلک له داسې ناوړه افعالو څخه ځانونه وساتي.

## په کندهار ولایت کې مجرمینو ته د تعزیراتو ورکولو راپور

په کندهار ولایت کې مجرمینو ته د تعزیراتو ورکولو راپور

په ۱٤٤۳/۱۲/۱ هـ ق نېټه په کندهار ولایت کې څلورو مجرمینو ته د مرافعې محکمې د جزا ء دېوان لخوا تعزیري سزاوې ورکړل شوې.

د یادو مجرمینو له ډلې یوه ته یې چې د کندهار ښار اړوند عینو مینه سیمه کې په رڼا ورځ یوه قلف کور ته ور اوښتی و او یوه د سرو زرو غاړه کۍ یې غلا کړې وه، مجاهدینو د یاد مجرم تر نیولو وروسته دغه غلا شوې غاړه کۍ بېرته خپل مالک ته سپارلې وه او مجرم یې محکمې ته حاضر کړی، چې د محکمې لخوا په یو کال قید او (۳۹) درو تعزیري سزا محکوم شوی و او نن په ۱٤٤۳/۱۲/۱نېټه په یوه عام محضر کې په درو ووهل شو.

دویم مجرم د کندهار ښار په چوک مدد سیمه کې درې د موټر سایکلو غلاوې کړې وې او بالاخره د مجاهدینو لخوا ګرفتار شوی و، دغه مجرم د محکمې لخوا د خپل جرم په وجه په یوکال حبس او (۳۹) درو تعزیري سزا محکوم او نن مجازات شو،

درېیم مجرم چې له یوه دوکان څخه یې پیسې غلا کړې وې او د مجاهدینو لخوا نیول شوی و، او پیسی یې مجاهدینو بېرته خپل مالک ته سپارلې دي، دغه مجرم د محکمې لخوا د خپل جرم په وجه په (٦) میاشتې حبس او (۳۵) درو تعزیري سزا محکوم او نن مجازات شو.

څلورم مجرم چې پردی نامحرمې ښځې ته یې لاس ور اچولی و او د زنا مطالبه یې ځینې کړې وه، او بالاخره د مجاهدینو لخوا ونیول شو، نن د محکمې له طرفه په شپږ میاشتې بند او (۳۵) درو تعزیري سزا محکوم او نن مجازات شو.

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)



## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ۱۹
### نیټه: ۱۴۴۳/۱۲/۲۵ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د وزیرانو شورا په تاریخ ۱۴۴۳/۱۰/۱۶ هـ ق مصادف ۱۴۰۱/۲/۲۶ هـ ش د کابینې په غونډه کې د مصوبې نمبر(۳۳) د لومړۍ پرېکړې په اساس داسې هدایت وکړ:

((د سترې محکمې د دارالانشاء د رئیس مفتي عبدالرشید سعید صاحب په مشرۍ د اراضي اداري د قباله جاتو رئیس، د مالیې وزارت د املاکو رئیس، د عدلیې وزارت د قضایای امارت رئیس، د کابل ښاروالۍ د استازي او اړونده متخصصینو په ګډون پلاوي ته دنده سپارل کیږي، چې د شرعي قبالو د ویش څرنګوالي او په هغه کې د جعل او تزویر د مخنیوي په هکله طرحه جوړه او د کابینې غونډې ته وړاندې کړي.))

د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د پورته ذکر شوې پرېکړې د هدایت مطابق د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست رئیس، مفتي عبدالرشید (سعید) په مشرۍ ، د اراضي اداري د قباله جاتو محترم رئیس، د مالیې وزارت د املاکو محترم رئیس، د عدلیې وزارت د قضایای امارت محترم رئیس، د کابل ښاروالۍ محترم استازي او د نومړو اداراتو اړونده متخصصینو په اشتراک د سترې محکمې په دارالانشاء ریاست کې متعددې غونډې ترسره شوې چې په نتیجه کې (د قبالو د ویش د څرنګوالي، د جعل او تزویر د مخنیوي کړنلاره) په نه ویشت(۲۹)مادو کې ترتیب شوه او په تاریخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۸ هـ ق مصادف ۱۴۰۱/۴/۶ هـ ش د افغانستان اسلامي امارت د کابینې غونډې ته وړاندې شوه چې په اړه یې د کابینې د نمبر(۳۹) مصوبې لومړۍ پرېکړه داسې وشوه:

((د قبالو د ویش څرنګوالي، د جعل او تزویر د مخنیوي کړنلاره تصویب ده. محکمو او اړونده ارګانونو ته دنده سپارل کیږي چې د همدې کړنلارې له مخې د قبالو ویش ترسره کړي.))

پورته ذکر شوې کړنلاره چې د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د(۳۹) مصوبې مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۸ هـ ق مصادف ۱۴۰۱/۴/۶ هـ ش د لومړۍ پرېکړې په اساس تائید شوې، د دې متحدالمآل مل په(۸) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت ټولو تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې ترسره شي.

یادونه: د قبالې د ترتیب لپاره به ځانګړې ورقې د ترتیب او تنظیم څخه وروسته اړونده مراجعو ته واستول شي تر څو قبالې د هغه مطابق په الکترونیکي ډول ترتیب کړي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۰
### نیټه: ۱۴۴۳/۱۲/۲۹ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: د سترې محکمې د دارالانشاء ریاست د متحدالمآل نمبر(۱۷) مورخ ۱۴۴۳/۱۱/۱۲ هـ ق په تعقیب لیکو:

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د دیوانونو د صلاحیتونو د تعین لپاره یو جدول ترتیب کړ او د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام ته یې وړاندې کړ چې د مشرتابه محترم مقام لخوا موضوع د سترې محکمې معاونیت او د جنوب غرب زون د تمیز عالي ریاست ته راجع شوه، یاد معاونیت په تاریخ ۱۴۴۳/۱۱/۲۵ هـ ق د جنوب غرب زون د تمیز عالي ریاست او د سترې محکمې معاونیت په دفتر کې د جنوب غرب زون د تمیز عالي ریاست رئیس او معاون صاحب د سترې محکمې تر مشرۍ لاندې(د تمیز عالي ریاست د دیوانونو رئیسانو صاحبانو، اعضاوو، د کندهار د مرافعه محکمې رئیس صاحب، د یادې محکمې د ځینو دیوانونو رئیسانو صاحبانو او اعضاوو) په ګډون جلسه دائره کړه او د سترې محکمې په پورته ذکر شوي جدول کې د موضوعاتو د(زیادت، تعدیل او حذف) په باره کې خپل نظر څرګند کړ چې د مکتوب نمبر(۸۴۹)مورخ۱۴۴۳/۱۱/۲۸ هـ ق په توسط یې د مشرتابه محترم مقام ته وړاندې کړ، د مشرتابه محترم مقام یې په اړه داسې هدایت وکړ:

((وکتل سو:

د سترې محکمې محترم مقام ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته وبعد، د دیوانونو لپاره چې په موضوعاتو کښې کوم تغیرات په دغه راپور کې راغلي دي تاسو یې هم تر نظر تیر کړئ که کومه ملاحظه مو پکښې نه وه پر دغه طرز او ډول موضوعات ترتیب کړئ محاکمو ته یې توزیع کړئ تر څو د محاکمو په کارونو کې تفکیک راشي))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د هدایت مطابق، د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت څخه وروسته (د دیوانونو د موضوعاتو د تعین په جدول کې د جنوب غرب زون د تمیز عالي ریاست د تغیراتو په نظر کې نیولو سره)، د دیوانونو د موضوعاتو د تعین لپاره جدول ترتیب شو چې نوموړی جدول د سترې محکمې عالي مقام تر تائید وروسته د دې متحدالمآل مل په(   ) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت ټولو تمیزونو ، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې ترسره شي.

یادونه: د دې متحدالمآل څخه مخکې چې(د دیوانونو د موضوعاتو د تعین په باره کي) کوم جدولونه محکمو ته استول شوي او د دې جدول سره په ټکر کې وي، لغوه دي، ټول دیوانونه دې یوائې د دې جدول مطابق خپل مربوطه موضوعات حل او فصل کوي.

## پروان کې د عدلي او قضائي ناستې راپور

په ۱۴۴۳/۱۲/۷ هجري قمري نېټه د پروان د استیناف محکمې د رئیس شیخ القران و الحدیث محمد قسیم (محمدي) په مشرۍ د دې محکمې په تالار کې عدلي او قضائي ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې د استیناف دیوانونو رئیسانو، د ښاري محکمې رئیس او د اړوند دیوانونو رئیسانو، د څارنوالۍ ریاست او عدلیې ریاست استازو او د محبس رئیس ګډون درلود.

یاده ناسته د اسنادو، وثایقو او مخزن د سرپرست امر مولوي احمدولي (نحاس) لخوا د قرانکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، ورپسې د استیناف محکمې رئیس لنډه وینا وکړه او د علي او قضائي ارګانونو ترمنځ د دغه ډول ناستو ترسره کېدل یې ګټور وبلل.

نوموړي وویل، د دغه ډول ناستو د ترسره کېدو په نتیجه کې د موجوده ارګانونو د کاري بهیر پر مهال رامنځته شوي ځینې ستونزې حل کېږي، د ناستو جوړېدو اغېز یې د اړوند ارګانونو د کاري بهیر په تړاو مثبت وباله، د ارګانونو ترمنځ متقابل درناوی یې وستایه او د دوام هیله یې وکړه.

د استیناف محکمې رئیس دې ته په اشاره چې د اسلامي شریعت او هیواد د نافذه قوانینو په مراعاتولو سره د افغانستان خلکو ته غوره خدمت ترسره کولای شو وویل، په دغه ډول ناستو کې د څارنوالۍ او عدلیې ریاستونو د رئیسانو نه ګډون د اصولو خلاف عمل دی، ټینګار یې وکړ چې یاد رئیسان دې هڅه وکړي چې په راتلونکې ناستو کې ګډون وکړي.

وروسته د ښاري محکمې رئیس مولوي نورالله (حماد) غونډې ته وینا وکړه وویل، څلور ارګانونه (محکمه، څارنوالي، عدلیه او محبس) چې کارونه یې مشترک دي باید اصولو ته جدي پاملرنه وکړي، که زموږ چارې په همغږۍ ترسره شي اجراآت به مو ورځ په ورځ ښه کېږي.

په همدې ډول د ناستې د درېیمې اجنډا مطابق د لومړۍ برخې: «څارنوالۍ ریاست ته د ۱۴۴۳/۴/۱۵ نېټې د (۶۴۹) شمېرې مکتوب د متن، ولایت مقام ته د ۱۴۴۳/۱۲/۱ نېټې د (۴۵۸) شمېرې مکتوب په اړه چې اصل یې د څارنوالۍ ریاست لخوا صادر شوی و او په متن کې یې راغلي (د اړوند ارګانونو د چارواکو د هدایت مطابق له څارنوالۍ پرته هېڅ ارګان د مجرمینو د توقیف حق نه لري چې کشف او نیول یې د امنیتي، کشفي او استخباراتي ارګانونو دنده ده، توقیف، تحقیق او تعقیب یې د مربوطه څارنوالۍ اړوند دي» په اړه بحث وشو

دویمه برخه: «د ښاري محکمې د عامه امنیت دیوان جرمي اجناس او مدارک چې وسله، د نشه یي توکو بېلا بېل ډولونه او الکولي مشروبات په کې شاملېږي د ۱۴۴۳/۱۱/۲۷ نېټې د (۱۹۶) شمېرې مکتوب له لارې له اړوند څارنوالۍ غوښتي دي، خو د ښاري محکمې جزاء دیوان تر اوسه جرمي مدارک له څارنوالۍ نه دي غوښتي.

د یادو موارد په اړه د ښاري محکمې د عامه امنیت دیوان رئیس مولوي فضل رباني خبرې وکړې وویل: ((کله چې عامه امنیت دیوان ته دوسیه وارېدېږي، د جرمي مدارکو د معایناتو نتیجه یې نه وي موجوده او له ډېر وخت وروسته موږ ته رسیږي، که منتظر پاتې شو د دوسیې وخت پای ته رسیږي او تاسو ته غوره معلومه ده ترڅو چې جرمي توکي او مدارک له دوسیې سره ضمیمه نه وي موږ عادلانه حکم نشوو کولای، په دې خاطر چې ایا په دوسیه کې شامل توکي واقعیت لري یا بل څه دي، که د جزاء دیوان جرمي مدارک نه غواړي ځواب یې د دوی اړوند دی، چې د ځواب په اړه یې د استیناف څارنوالۍ استازي حمیدالله وویل: کله چې موږ ته د نشه یي توکو دوسیه راجع شي او مدارک یې تشخیص نشو کړای، چې ایا پوډر دي او که بل څه؟ له دې امله هغه په رسمي ډول د نشه یي توکو ریاست د لابراتوار ځانګې ته راجع کېږي چې د یادو نشه یي توکو د نوعیت په اړه په جلا فورم کې معلومات راکړي، دغه بهیر یو څه وخت ته اړتیا لري، او له دوسیې سره هم مهاله یې نشو لیږلای، په هر صورت په دې برخه کې توجه کېږي چې د هدایت مطابق جرمي مدارک هم له دوسیې سره یو ځای ولیږل شي.))

دغه راز د اجنډا مطابق د عدلیې ریاست د وړاندیزونو په اړه هم خبرې وشوې چې په هغه کې یې داسې لیکلي دي:

الف: پیشنهاد کېږي چې د عامه حقونو اړوند دعوی ته د ژر رسېدنې په موخه اړوند مرجع ته هدایت وشي.

ب: د مرکز په ځانګړې توګه ولسوالیو مسوولین باید د امارت د ځمکو د استرداد، د امارت د ملکیتونو د غصب څخه د مخنیوي او عامه حقونو برخه کې هڅې وکړي، هغه کسان چې د قانوني اسنادو له مخې ادعا لري باید دغه ډول قضیې د امارت د قضایاوو اداري ته راجع شي، ترڅو د محاکمو په حضورکې د امارت له ملکیتونو قانوني دفاع ترسره شي.

### د حقوقي مرستو امریت وړاندیزونه:

۱ـ محاکم دې په خپلو قضائي ناستو کې حقوني د حقوقي مرستو آمریت ته هم بلنه ورکړي.

۲ـ قضیو ته د رسېدنې بهیر باید چټک شي.

په همدې ترتیب د ناستې حاضرینو د ورځینو چارو پر مهال د ځینو شته ستونزو په اړه خبرې وکړې.

د ناستې په پای کې د استیناف محکمې رئیس (محمدي) د یادو موضوعاتو په تړوا لازمي لارښوونې وکړې.

ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## گزارش فعالیت و کارکرد های محاکم استیناف ولایت کابل

گزارش فعالیت و کارکرد دیوان رسیده‌گی به قضایای تجارتی استیناف، محکمهٔ اختصاصی ابتدائیه رسیده‌گی به جرایم مواد مخدر و مسکرات، دیوان مدنی محکمه ابتدائیه زون سوم، محکمه ثبت اسناد و وثایق حوزه های اول، دوم و سوم شهر کابل و محکمه ابتدائیه ولسوالی شکر دره به شرح ذیل مواصلت نموده است:

### - دیوان رسیده‌گی به قضایای تجارتی استیناف:

پس از روی کار آمدن نظام امارت اسلامی کار این دیوان به تاریخ ۱٤٤۳/۵/۱٦ آغاز و با در نظر داشت ملاحظات و بررسی به تعداد (۱۳۳) جلد دوسیه در این دیوان از قبل موجود بوده و به تعداد (٦٦) جلد دوسیه از شروع کار مواصلت نموده است. که از جمله (۱) دوسیه آن فیصله شده، به تعداد (۷) دوسیه مکتوبی مسترد شده، در مورد (١٤) دوسیه به قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و باقی مانده تحت کار می باشد.

### - محکمه اختصاصی ابتدائیه رسیده‌گی به جرایم مواد مخدر و مسکرات:

در این محکمه از آغاز کارش الی ۱٤۰۱/۳/۳ به تعداد (۸٦) جلد قضایای هیروئین، تریاک، چرس، مت امفتامین و مشروبات الکولی وارد شده که از جمله (۵۷) قضیه آن فیصله شده، (۲) قضیه مسترد مکتوبی و (۲۷) قضیه آن تحت کار می باشد. در قضایای فوق (۱۳۷) نفر محکوم گردیده؛ که از جمله به تعداد (۸۷) نفر آن به حبس الی یکسال محکوم به مجازات، (۲) نفر محکوم به حجز و به تعداد (۱۱) نفر برائت حاصل نموده اند.

### - دیوان مدنی محکمه ابتدائیه زون سوم:

در این دیوان از تاریخ ۱٤٤۳/۳/۳۱ الی ۱٤٤۳/۹/۱۸ (۱۲٤۱) جلد دوسیه وارد شده که از جمله به تعداد (٦۷) جلد آن فیصله شده، (۱۷۲) جلد دوسیه مکتوبی مسترد شده، در مورد (۹) جلد دوسیه به قرار قضائی اجراآت به عمل آمده و باقی مانده تحت کار می باشد.

### - محکمهٔ ثبت اسناد و وثایق حوزه های اول، دوم و سوم:

در محکمه وثایق حوزه اول طی برج های حمل و جوزای سال ۱٤۰۱ به تعداد (۳۹۰) وثیقهٔ نکاح خط، وکالت خط، اقرار خط، تضمین خط و وصایت خط اجراء گردیده است.

در محکمه وثایق حوزه دوم طی برج حمل و ثور سال ۱٤۰۱ به تعداد (۷۱٤) وثیقهٔ اقرار خط، حصر وراثت، نکاح خط، وصایت خط، وکالت خط، نفقه خط و مثنی قباله قطعی اجراء گردیده است.

در محکمه وثایق حوزه سوم طی ربع چهارم سال ۱٤۰۰ به تعداد (۱۳۲۷) وثیقهٔ نکاح خط، وکالت خط، اقرار خط، نفقه خط و وصایت خط اجراء گردیده است.

### - محکمه ابتدائیه ولسوالی شکر دره:

گزارش اجراآت این محکمه در بخش های جزائی و حقوقی از آغاز کارش الی ۱٤٤۳/۱۱/۱۲ به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:** در این بخش به تعداد (۱۹٤) قضیه وارد گردیده که از جمله (۱۳) قضیه آن فیصله شده، به تعداد (۱۳) قضیه به قرار قضائی اجراآت به عمل آمده، (٤) قضیه مسترد مکتوبی، (۱) قضیه به اصلاح و صلح، (۱) قضیه تبدیلی محکمه گردیده و به تعداد ( ٦۳) قضیه تحت دوران قراردارد.

**در بخش جزائی:** در این بخش به تعداد ( ۷) قضیه وارد شده که از جمله به تعداد ( ٦ ) قضیه آن فیصله شده، و به تعداد(۱) قضیه آن تحت دوران قراردارد.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publication@supremecourt.gov.af

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳